قمر بنسټ

QAMAR FOUNDATION

QAMARCHARITY.ORG

# د خير او غښتلتيا پنځه کلن مزل

## (۱۳۹۸ - ۱۴۰۳)

محمد (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل:

"زه او د یتیم کفالت کوونکی
به په جنت کې داسې یو ځای یوو"

او هغه خپل دوه ګوتې سره نیولې وې

صحیح البخاری: ٥٦٥٩



# لړلیک


مقدمه........................................................................ ۱
د قمر خیریه بنسټ د رئیس پیغام.......................................... ۲
زموږ اهداف.................................................................. ۳
زموږ ارزښتونه............................................................... ۴
د یتیمانو او بیوزله ماشومانو پالنه.......................................... ٦
یتیم خانه..................................................................... ۷
زیرو هنګر پروژه............................................................ ۱۰
بیړنۍ مرستې................................................................ ۱۲
کوچني تجارتونه............................................................. ۱۳
د کونډو او اړمنو کورنیو لپاره اوزې......................................... ۱٦
افطاري (روژه ماتی)......................................................... ۱۷
ژمنۍ مرستې................................................................. ۲۰
قرباني......................................................................... ۲۲
خوراکي موادو کڅوړې....................................................... ۲۴
څاګانې........................................................................ ۲٦
سولري پروژې................................................................ ۲۸
کور جوړونه................................................................... ۳۰
مسجدونه....................................................................... ۳۱
د زراعت برخه................................................................ ۳۴
تحصیلی بورسونه............................................................. ۳٦
ټکنالوژیکي روزنه............................................................ ۳۸
الکترونیکي کتابتون........................................................... ۴۰
د قمر بنسټ پاملرني کارت.................................................... ۴۲
د ویني ورکړې او راکړې سیستم.............................................. ۴۲
کلینیک......................................................................... ۴۴
پر ټولنې زموږ تاثیر............................................................ ۴۵
د قمر بنسټ دفترونه............................................................ ۴۷
باور پام کې نیول کیږي........................................................ ۴۸
مونږ سره په اړیکه کې شئ..................................................... ۴۹

# مقدمه

قمر د خیر ښېګڼې په ډګر کې ځانګړی، باوري، دین او خاورې ته ژمن ادرس دی. قمر خپل فعالیت لهٔ ۱۳۹۸ لمریز کال پیل کړ او په دې پنځو کلونو کې یې بریالی مسیر طی کړی دی. پدې بنسټ کې ۴۵ تنه وړ اشخاص په مختلفو برخو کې کار کوي.

دوی ټول متدین، ژمن، د ښه احساس لرونکي او د ولس په ستونزو پوه کسان دي. د دوي په عاطفي چلند هېوادوالو تل ډاډ محسوس کړی، په خوږه او مهربانه لهجه یې تل د ولس درد ته ډال نیولی دی.

قمر په دې لږه موده کې ډېر ستر کارونه کړي دي چې یو میلیون هېوادوال یې لهٔ ښېګڼو سېراب کېږي.

په دې ټولګه کې د قمر بنسټ پنځه کلن مزل په انځوریزه او تفصیلي بڼه تشریح شوی، دا تاسو او د قمر بنسټ لاسته راوړنې.



# د قمر خیریه بنسټ د رئیس پیغام

دا چې زموږ ګران هېواد له اوږدو مودو راهیسې د جنګ جګړو ډګر ګرځېدلی دی، له کافي تعلیم بې برخې دی، وګړي یې په مادي لحاظ د نورې متمدنې نړی سیال نه دي، جغرافیاوي موقعیت یې د طبیعي آفتونو شاهد دی، کرنه یې لا هم په دودیزه بڼه ده، کاني منابع یې په ښه شکل د ولس د هوساینې لپاره نه دي کارول شوي او یا د ابزارو او یا د فني پوهې، تجربې او لازم چاپېریال نه شتون دی، اقتصاد یې نسبت بهرنیو هېوادونو ته بېخي کمزوری دی، نو ځکه خو تر بل هر هېواد ډېر د خیر ښېګڼې لاسنیوي ته اړ هېواد دی. دا ولس هم لکه د نورې نړی د هوسا ژوند حق لري. د غریب، غمېدلي او کړېدلي ولس پر خوله د خندا راوستلو، د هغوی ستونزو ته د لبیک ویلو او په مصیبت کې د شریکېدلو لپاره قمر خیریه بنسټ متې رابډوهلې دي. زموږ د خدمت بهتري په دې کې ده چې د اسلامي آدابو او ارشاداتو په دایره کې دننه د ولس خدمت وکړو. اسلام تبعیض مردود کړی ځکه خو هر کړېدلی فرد، که هغه تاجک دی که ازبک، پښتون دی که هزاره، زموږ هم ولایت دی او که د بل ولایت دی، ټول زموږ ورونه دي؛ او د خیر ښېګڼې باد مو هره خزان وهلې څانګه متحرکه ساتي چې ژوند وکړي، ژوند وپالي، مسکی شي او لکه د بل هوسا هېوادوال د ژوند ضرورتونه ورته میسر شي. اسلام خپلوي هم پالي خو هر مسلمان یې هم سره د ورورولۍ په تار تړلی دی (مسلمان د مسلمان ورور دی.) اسلام په تمامه معنا د انسانیت ټولې ښېګڼې په ځان کې لري نو له همدې کبله د اسلام په چوکاټ کې د ولس خدمت د ښېګڼو ستائل شوی قالب دی او دا قالب ریاء، دوکه، بل ذلیله کول، تبعیض، غلاء، په ستونزه کې له خلکو تېښته او د چا رسوایې هیڅ مني نه .

خپلو هغو ورونو ته چې موږ سره په دې کاروان کې مزل ترسره کوي پیغام داده چې په پټه او ښکاره تقوا اختیار کړي، دا ستر مسؤلیت دې په پوره دیانت سره سنبال کړي. د حدیث په بناء غوره خلک هغه دي چې یو بل ته ګټه رسوي. تاسو بل ته د فایدې ورکولو، د تکیه ورکولو، د ارام ژوند بښلو په لار کې بوخت یاست، اُمېد لرم چې د تقوا دا سپېڅلی هدف پر ځان ثابت کړئ. غم ځپلو، اړمنو او محتاجو خلکو ته د ستونزې پر مهال ځان ورسوئ. ستونزه شپه او ورځ نه پېژني ځکه خو زموږ کوښښ دا وي چې پر لومړنیو حالاتو کې د خلکو لاسنیوی وکړو ترڅو هغوی ځان یوازې احساس نه کړي. په دې اړه د خپلو اسلافو روایات راژوندي کړئ.

د ولس لاسنیوی پر موږ سالم حق دی. مونږ الحمدلله په دې برخه کې بریالي اقدامات ترسره کړي دي. هغه که د مسجد جوړول دي، د یتیمانو پالنه ده، د څاه ګانو کیندل دي، د باغونو جوړول دي، که بیړنۍ مرستې دي، د تحصیلي بورسونه برابرول دي، که د اوبو سولري شبکې دي، د کورونو جوړول دي او که ژمنۍ او رمضاني مرستې دي. موږ تر خپلې انتهایي توان په دې باب کې هڅه کړې او د لا زیات لاسنیوي توفیق به الله تعالی راکوي ان شاء الله، قمر خیریه بنسټ یو روڼ بنسټ دی. د دې بنسټ تر شا د مخلصو هېوادوالو خوارۍ، هڅې، دعاوې او همکارۍ شتون لري.



# زموږ اهداف

قمر خیریه بنسټ د خپل چوپړ تر شا ګڼ د خیر ښېګڼې اهداف لري او پر همدغو اهدافو تمرکز کوي، همدا يې لرليد دی او په همدې اهدافو کې د ولس بقاء، عزت او خير ويني.

## ولس لپاره اساسي او بنسټيز کارونه:

قمر بنسټ د ولس لپاره اساسي او بنسټيز کارونه کوي. د کارزمينه ورته برابروي. تکسيب المعدوم (بې روزګارو ته کار پيدا کول) په اسلام کې ډېر ستر فضيلت لري، له همدې کبله د قمر بنسټ په اساسي او لومړيو اهدافو کې دغه اساسي خدمت شامل دی. لکه څنګه چې وړاندې بيان شول قمر بنسټ پدې برخه کې لازم، مهم او بنسټيز اقدامات ترسره کړي دي.

## د فقر رېښې پيدا کول او لمنځه وړل:

د قمر بنسټ په اهدافو کې يو مهم هدف دا هم دی چې د فقر رېښې پيدا کړي او له منځه يې يوسي. د فقر تر شا ګڼ لاملونه دي، موږ پدې کوښښ کې يو چې هر يو لامل يې پيدا کړو، د محوې لاره چاره يې وسنجوو ترڅو ولس مو له دې ستر ازمائښت وژغورل شي او همداسې د شتمنو هېوادوالو پر همکارۍ د محتاجو هېوادوالو ستونزې حل کړي. د يو افغان پر همکارۍ د بل افغان تقويه زموږ له هدفونو يو ستر هدف دی.

## په ځان بسيانه:

قمر بنسټ غواړي ولس پر ځان بسيا کړي چې پدې برخه کې ګڼ شمېر مرستې، د کرنيزو ځمکو ځانګړي کول او زراعتي کول، کوچني تجارتونه او بېلابېلې کاري زمينه سازۍ شاملې دي.
قمر بنسټ په دې هڅه کې دی چې د نورو هېوادونو مؤسسات، خيريه بنسټونه او خيريه ټولنې را جلب کړي او د خپل کړېدلي ولس لاسنيوی پرې وکړي.



# زموږ ارزښتونه

## امانت داري:

موږ امانت دارۍ ته احترام لرو. دا ستر ارزښت پالو او دا مو ایماني وجيبه ده.

## غښتلتیا:

موږ تل خلک غښتلي کوو چې د بریا او رشد جوګه شي. موږ د ولس قوت، پر ځان بسیا او اعتماد ته غښتلتیا ورکړې ده.

## نوښت:

موږ د نوښت او خلاقیت ملاتړ کوو. تل په دې هڅو کې یوو چې نوښتونه وکړو او د دغو نوښتونو له لارې د ولس فقر او احتیاج ختم کړو.

## حق وړ شخص (حق دار) ته سپارل:

قمر، تل حق حقدار ته سپاري. او په دې اند یؤ چې حق حقدار ته نه ورکول ظلم دی. او مونږ تل به له دې ظلم ځان ساتو.

## تبعیض پرېښودل:

قمر بنسټ له تبعیض پاک دی. هر راز قومي، ژبنی، قبیلوي، نژادي او لهجوي تبعیض مردود دی او د ښېګڼو پر وړاندې باید دېوال ونه ګرځول شي.

## انساني کرامت ته ژمنتیا:

هر انسان کرامت لري او بل حق نه لري چې دا کرامت يې تر پښو لاندې کړي. قمر بنسټ هم دې اصل ته معتقد دی او د هر انسان عزت، فضیلت او کرامت ته ژمن دی.

## په لومړي/مناسب وخت کې د هېوادوالو ستونزو ته رسیدل:

قمر بنسټ کار کوونکي تل په بیړنیو او سختو حالاتو کې لومړي کسان دي چې ساحې ته رسیدلي او د خپلو ګرانو هیوادوالو لاسنیوی یې کړی، داسې سیمو او ځایونو ته زمونږ ټیم سفر کړی چې د تګ راتګ پکې کاملاً خطر ؤ، خو هیڅکله سختې لارې زمونږ د دې مقدس رسالت مخه نه شي نیولی.

# د یتیمانو او بېوزله ماشومانو پالنه



# د یتیمانو او بېوزله ماشومانو پالنه

قمر بنسټ تر دې مهاله د کوچنیانو (یتیمانو) او بېوزله هېوادوالو د ساتنې په برخه کې پنځه ګڼ مېشتو ولایتونو ته لاسرسی لري. په دغو پنځه ولایتونو کې ۱۸۲۰ تنه یتیمان او بېوزله کوچنیان له دې ادرسه ساتل کېږي.

قمر بنسټ د کوچنیو یتیمانو ته د زده کړو، سالم چاپېریال، سالم تربیت او د نورو همکاریو زمینه برابره کړې ده.

د هېواد ناخوالوزمونږ ډېر شــــــمېر کوچنیان یتیمان او بې اسرې کړل. دوی ترحم، همکارۍ،زده کړو او د ژوند سهولتونو ته تر بل هر چا ډېر اړ دي نو په همدې پار قمر بنسټ دې ستر خیر ته اوږه ورکړې ده.

یتیم پالنه جنت د تللو ســبب دی او د مبارک حدیث له نص جوتېږي چې د یتیم پالونکی (کافل الیتیم) به د نبي علیه السلام سره په جنت کې ډېر نژدې وي.

د قمر له ښېګڼو دا ستر کار له هغو کارونو څخه دی چې حســاب پرې کېږي او د وهاب ذات له دربار غوښتونکي یوو چې د هېواد هر یتیم او بېوزله ته لاسرسی ولرو، پر سر یې د شفقت لاس راکاږو، د یوازېتوب اوښکې یې پاکې کړو، دزده کړې حق یې پوره کړو، سالم تربیت ورکړو، په نویو لباسونو کې یې وګورو او هغوی ته دا احســاس ورنکړو چې ته یوازې او بې اسرې یې.

په میاشت کې یوازې د ۴۰ ډالرو په مرستې‌سره تاسو کولی شئ د یو ماشوم ژوند بدل کړئ. د دې پروګرام له لارې لاندې اسانتیاوې یو یتیم ته ورکول کیږي.

### اساسي روغتیايي پاملرنه
ماشومان به لومړنیو روغتیايي خدمتونو ته لاسرسی پیدا کړي.

### ترانسپورت
له کور څخه ښوونځي ته او بیرته تر کوره.

### جامې
ماشومان د اخترونو او ژمي جامې ترلاسه کوي.

### باکیفیته زده کړه
د ښوونځي فیس، قرطاسیه، کتابونه، یونیفرم او داسې نور.


### د سلمانی خدمتونه
ماشومان به د سلماني وړیا خدمتونو ته لاسرسي پیدا کوي.

### د خوراکي موادو کڅوړه
د ماشومانو کورني به د خوراکي موادو کڅوړه ترلاسه کوي.

### د غرمې ډوډۍ
مونږ په پروان ولایت کې یتیمانو ته د غرمې ډوډۍ چمتو کوو.

- کابل
- ننګرهار
- لوګر
- کندهار
- فاریاب
- لغمان
- پروان

**۱۲۷۴۰**
ګټه اخیستونکي








# يتيم خانه:

د قمر خيريه بنســـټ له سترو نوښتونو يو هم د يتيم خانو جوړول دي چې يوه يې په کابل کې په پوره ستڼدړه او نړيوالو معيارونوسره معمار شوې چې د هېواد د ګڼ شمېر يتيمانو کفالت پکې ترسره کېږي.







- د داسې منظمه او آرامه چاپېريال رامنځ ته کول، چې ماشومانو لپاره خوښی، راحت او امنيت سبب وګرځي.
- د داسې پروګرام رامنځته کول، چې د ماشومانو هوساينې ته وده ورکړي په ځانګړې توګه د يتيمانو.
- د ماشومانو لپاره د لومړنيو روغتيايي خدماتو اسانتيا.
- د داسې تعليمي نصاب رامنځ ته کول چې د راتلونکي نسلونو په مهارتونو او وړتياوو کې مرسته وکړي او د روښانه راتلونکي لپاره اړين وي.
- د داسې فضا رامنځ ته کول، چې ماشومان د خپلو والدينو په نشتون کې د مينې او آرامتيا احساس وکړي.

قمر خيريه بنسټ په افغانستان کې د زيانمنو ماشومانو لپاره د روزنې او ملاتړ چاپېريال چمتو کولو ته ژمن دی. مونږ به د دوې د ژوند ښه کولو او هوساينې لپاره کار ته دوام وکوو.





د قمر بنسټ يتيم خانه
کابل، افغانستان


بنیاد قمر
قمر بنسټ
Qamar Foundation
Saving Lives and Improving Community Standards
qamarcharity.org

# مرستې او پر ځان بساینه



# زیرو هنګر پروژه!

دا د قمر بنسټ له مهمو او اساسي پروژو څخه ده، هغه کوچنیان چې ښار او بازار کې لاس پلورنکي دي، سخت او درانه کارونه کوي، د همدې کوچنیانو په مټ کورنۍ یې خپل ژوند مخکې وړي، تر څنګ یې هغه خویندې چې د ګټې څوک نه لري او مجبور دي چې کار وکړي.

دا پروژه ددوي لپاره په لاره اچول شوې ده، ددې پروژې بنه داسې ده چې ددغو کوچنیانو او خویندو د مسلکي او کسبي روزنې لپاره د موټر جوړونې ورکشاپ، نجاري زده کړه، د موبایل جوړونې پروګرام او د خویندو لپاره د خیاطۍ لوی کورس او کارزمینه مساعده کړې ده او ددې پروژې هرې دورې لس میاشتې موده درلوده، تر څنګ یې په میاشتني ډول ددوي د کورنیو مصارف قمر بنسټ ورته ورکول، تر څو دوي په ارام ذهن د کسب او مسلک زده کړه وکړي.




- کابل
- لغمان
- نورستان
- ننګرهار
- لوګر
- کاپیسا
- کندهار

**۲۱۰۰**
ګټه اخیستونکي

مونږ بېوزله او اړمنو کورنیو ته لاندې ذکر شوو مهارتونو او کسبونو د زده کړې فرصت برابروو.

- میخانیک زده کړه
- ترکاڼي (نجاري)
- د کمپیوټر پروګامونه
- د موبایل انجنیري
- خیاطي
- د انګلیسي ژبې زده کړه
- فلزکاري





**د ۱۴۰۲ کال خونړۍ زلزله**
پکتیکا، افغانستان

# بیړنۍ مرستې

افغانســتان يو له هغو هیوادونو څخه دی، چې کله پرې زلزله، اور لګیدنه، سیلابونه او نور طبیعی پېښــې را منځته کیږي، د منظمو تدابیرو د نه شــتون له أمله ګڼ شــمېر خلکو ته ځاني او مالي زيانونه رسيږي.

هر کله چې داسې پېښې را منځته شوي قمر بسنټ له لومړيو مرســتندويه ټیمونو څخه وي، چې ســاحې ته ځان رســوي او د خپلو بې وســو او زيانمنو خلکو تر څنګ ولاړ وي او د لاســنيوي په موخه يې هيڅ ډول مرســته نه ســپموي، د پکتیکا زلزلې را نيولې د هرات زلزلې بيا د بغلان تر خونړيو ســيلابونو پورې، تر هغه د قمرژمن ټيم ساحې کې وي، تر څو چې مناسب حالت ته د خلکو ژوندرا ګرځي.

زموږ لید او انګیزه داســــې چې هیڅ وخت ســــخت حالتونه، خطرونه، ناسـمې او اوږدې لارې زموږ ددې مقدس ماموريت او رسالت مخه نه شي نیولی.





| توکي |
|---|
| اوړه |
| وريجې |
| لوبيا |
| غوړي |
| بوره |
| دال نخود |
| صحي توکې |
| شيدې |

| |
|---|
| پکتیکا |
| هرات |
| کابل |
| پروان |
| کندز |
| لغمان |
| ننګرهار |
| کندهار |

**۳۰۰۰۰**
ګټه اخیستونکي



**د ۱۴۰۳ کاشل خونړۍ زلزله**
هرات، افغانستان

# کوچني تجارتونه:

د قمر له ســــــترو موخو یوه موخه دا هم ده چې هېوادوال پر خپلو پښو ودرېږي، پر ځان متکي شي او د نورو له احتیاج خلاص شي.
په همدې پار قمر بنسټ ځینې تجارتونه پر لاره اچولي دي چې شمېر یې ۱۰۰ شا او خوا ته رسېږي.
سوداګري، خپل کاروبار او د پرمختګ دا وړ زمینه سازي اساسي کار دی. کاروباري او سوداګریزې بوختیاوې ولس (خلک) له سوال، جلا وطنۍ او د عزت النفس له ښکته کېدا ژغوري.
پاک، حلال تجارت له دې زر ځله غوره دی چې د چا دســــــترخوان د یو میاشت یا یو کال لپاره په مختلفو خوراکونو ورته ډولي کړو. خدیجه رضي الله عنها چې کله د نبي علیه السلام صفات بیانول په هغې کې دا هم و [ته خو بې روزګارۀ ته کار پیدا کوې.] او همدا صــــــفت د ابوبکر الصدیق په تړاو عربي مشر ابن دغنه هم بیان کړی دی.

## بار وړونکی زرنج

زرنج (بار وړونکی) رکشه د یوې کورنۍ ژوند بدلولی شي.

## دوکان

د کونډو او یتیمانو لپاره د دوکانونو جوړول، تــــرڅو د دغه دوکان څخه د ژوند تیرولو لپاره عاید ولري.

## خیاطي

ښځو (کونډه) ته د کالیو ګنډولو ماشینونو په اخیستلو سره دوی نور دې ته نه اړ کیږي، چې په لارو کوڅو کې خیرات وغواړي.

## د شیدو غوا

یوه د شـــــیدو غوا کــــولی شي د ټول ژوند لپاره د یوې کورنۍ ستونزې حل کړي.













- کابل
- ننګرهار
- لوګر
- کندهار
- پکتیا
- کونړ
- پروان
- هرات

**۱۱۹۰**
ګټه اخیستونکي



**ننګرهار، افغانستان**

دوکان، د اړمنو کورنیو لپاره د عاید سرچینه

# ژوند ځواکمن کول

## د کونډو او اړمنو کورنیو لپاره اوزې




**ننګرهار، افغانستان**
اړمنو کورنیو لپاره د اوزو ویش

# د کونډو او اړمنو کورنیو لپاره اوزې

زموږ دغه ستر رسالت او ماموریت اړمنو کسانو سره خواخوږي او مرستې کول دي. د کونډو لپاره زموږ د اوزو پروژه په افغانستان کې د کونډو، معلولینو او اړمنو کورنیو د پیاوړتیا، له ننګونو څخه خلاصون او د ځان بسیاینې په برخه کې هغوی سره مرسته کوي.

د ستونزو سره سره، ډیری کونډې د خپل ژوند شریک (خاوند) له لاسه ورکولو وروسته د خپلې کورنۍ لپاره مبارزه کوي. معلولین اکثراً د اضافي خنډونو سره مخ کیږي، چې یو باثباته او آرامه ژوند کول خورا ستونزمن کوي. زمونږ د دغه نوښت موخه دا ده چې دغه زیانمنو کورنیو ته هغه وسایل ورکړو چې دوی ورته اړتیا لري.

تراوسه مو د افغانستان په مختلفو ولایتونو او لیرې پرتو سیمو کې په ۳۰ کورنیو ۱۵۰ اوزې په ډیره ښه توګه ویشلې دي. هره اوزه نه یوازې دا چې هر کال بچي راوړي بلکې د عاید او د ثبات یو سرچینه ده. دا مرستې دغو کورنیو ته دا توان ورکوي چې د دوی د ژوند شرایط ښه کړي او دوی د خپلو ماشومانو زده کړې ته پاملرنه وکړي، ترڅو روښانه راتلونکې ولري.



کونړ

ننګرهار

۱۰۰۰

ګټه اخیستونکي





## افطاري (روژه ماتی):

لکه څنګه چې محبوب پیغبر صـــلی الله علیه وســلم فرمایي: څوک چې یو روژه دار ته روژه ماتی ورکړي، په هماغه اندازه ثواب ترلاســـه کوي، څومره چې روژه دار ته ورکول کیږي.

قمر خیریه بنســټ د افطاري پروګرام هم پر لاره اچوي چـــې تـــر دا مهاله د هېواد په ۲۲ ولایتونو کې زرګونه افطاري ترسره شـــوي دي. د اجتماعي افطاري ترتیبات د هېوادوالو د یووالي ښکارندويي کوي او د قمر له ادرسه زرګونه هېوادوال پر یو دسترخوان راټولیږي.

- کابل
- کونړ
- ننګرهار
- کندهار
- بغلان
- لغمان
- فاریاب
- پنجشیر
- هلمند
- هرات
- پکتیا
- نور...

**۳۰۰۰۰**
ګټه اخیستونکي

### توکي

- وریجې
- اوبه
- خرما
- ډوډۍ










**کابل، افغانستان**
روژه ماتی



**غور، افغانستان**
ژمني بيړنۍ مرستې

# ژمنۍ مرستې

دژمي موسم کې د افغانستان ډیری ولایتونو یخې سیمې لري، ډېرې واورې کیږي، دا موسم د ځینو لپاره د خوښۍ او ذوق موسم وي، خو له بده مرغه زموږ وطن کې د اقتصادي ستونزو له أمله ګڼ شمېر خلکو ته ژمی مصیبت او غم تمامیږي.

ستونزه داده چې اړمن خلک ختېين او غیر معیاري کورنو کې ژوند کوي، تر چې ځینې یې په خیمو کې دژمي یخې ورځې شپې تیروي، د امکاناتو (بخارۍ، لرګیو او نورو وسایلو) د پېرولو وس او طاقت نه لري، ډېر د تأسف ځای داده چې موږ هر کال د یخنۍ له أمله د مړینې اعداد هم لرو.

همدې لویې ستونزې ته په کتلوسره قمر بنسټ هر کال دژمي موسم کې پراخ کمپاینونه په لاره اچوي او د منظم پلان له مخې ډېر شمېر ولایتونو کې د لباسونو، بوټونو، کورتیو، بخاریو، لرګیو، کمپلو او خوراکي موادو توزیعات لري.

- کابل
- کندز
- پروان
- کاپیسا
- پنجشیر
- بغلان
- نورستان
- بامیان
- وردګ
- غزنی
- پکتیکا
- خوست
- فاریاب
- هلمند
- فراه
- کندهار
- هرات
- پکتیا
- زابل
- غور

**۲۰،۰۰۰**
کته اخیستونکي

## توکي

- اوړه
- وریجې
- لوبیا
- غوړي
- بوره
- دال نخود
- صحي توکي
- شیدې
- کمپله
- بخارۍ
- ژمنۍ جامې











کابل، افغانستان
د قربانۍ اختر

# قربانی

ډیری هېوادوال خپل لوی اختر د ابرهیمي سنت (قرباني) ذبحه کولو سره ښکلی کوي، خو له بده مرغه یو شمیر اړمن هیوادوال نه شي کولی خپله دا خوښي له خپلې کورنۍ سره په ډک دسترخوان ولمانځي په همدې پار قمر بنســټ د عيد الأضــحیٰ په ورځو کې تر دې مهاله ۵۴۰۹ قربانیو دیني مراســم ترسره کړي دي او د هېواد شــلو ولایتونو ته د قربانۍ غوښې توزیع شوي دي.

د قمر خیریه بنسټ د خدمت لمن پراخه ده. په دې هڅه کې یوو چې په هره برخه کې د هېواد د خلکو د درد دوا وګرځو.




- کابل
- کندز
- پروان
- کاپیسا
- پنجشیر
- بغلان
- نورستان
- باميان
- وردک
- غزنی
- پکتیکا
- خوست
- فراياب
- هلمند
- فراه
- کندهار
- غور
- جوزجان
- بلخ
- سمنګان
- هرات
- لغمان
- ننګرهار
- کونړ

**۲۰۰۰۰۰**
**ګټه اخیستونکي**















5 KG

## خوراکي توکي

- اوړه
- بوره
- دال
- شامپو
- غوړي
- صابون
- وريجې
- لوبيا
- شيدې

- کابل
- کندز
- پروان
- کاپيسا
- پنجشير
- بغلان
- نورستان
- باميان
- وردګ
- غزني
- پکتيکا
- خوست
- فارياب
- هلمند
- فراه
- کندهار

**۲۱۰۰۰۰**
ګټه اخيستونکي

# خوراکي موادو کڅوړې:

قمر بنسټ د افغانستان ټولو ولايتونو او لرو پرتو سيمو ته د امېد د ځراغ په توګه د لاسرسي هڅه کوي، د قمر بنسټ د خوراکي کڅوړو پروګرام په ۲۷ ولايتونو کې فعاليت لري.
په روژه،ژمي، طبيعي آفتونو او په نورو بيړنيو او سختو حالاتو کې قمر خيريه بنسټ بېلابېلې دېرش زره (۳۰۰۰۰) خوراکي موادو کڅوړې ترهېوادوالو رسوي.
دا هغه اړتيا ده چې په ورځني توګه انسانان ورته ضرورت لري، پرته له خوراک او څښاک څخه انساني ژوند نا شونی ده، د خوراکي توکو دا کڅوړې چې د خلکو ضرورت د حل تر څنګ د افغانستان په اقتصادي چلښت او بازار هم اغيز درلودلی شي.









**دايکندي، افغانستان**
رمضاني مرستو توزيع

# څاګانې



**پروان، افغانستان**
د پاکو اوبو څاه

# څاګانې

په ډېرو سیمو کې خلک د اوبو له نعمت بې برخې ؤ، قمر شاوخوا (۸۰۰) د پاکو اوبو څاه ګانې په داسې ساحو کې وکیندلې او د ولس استعمال ته یې وسپارلې.

څرنګه چې زموږ هېواد له څلورو اړخو وچې کېر کړی دی، له سمندر سلګونه کیلو متره فاصله لري ځکه خو تر ټولو جدي ستونزه د اوبو د نه شتون ده. زموږ ډېر هېوادوال لا هم له دې ستونزې ربړېږي او له ډېرو لرو سیمو په څارویو بار د څښاک اوبه راوړي.

اوبه د ژوند دوهم نوم دی، ارزښت یې له چا هم پټ نه دی.

| |
|---|
| کابل |
| کندز |
| پروان |
| کاپیسا |
| لوګر |
| بغلان |
| نورستان |
| کونړ |
| وردګ |
| غزنی |
| کندهار |
| ننګرهار |
| فاریاب |
| هلمند |
| فراه |
| هرات |
| پکتیا |
| خوست |
| شبرغان |
| سمنګان |

**۳۰۰۰۰۰**
ګټه اخیستونکي

څاګانې ۸۰۰






# سولري پروژې



# سولري پروژې

پاکې او صحي اوبه د افغانستان ډیری کورنیو د اوږدې مودې لپاره یو لویه ننګونه پاتې شوې ده. د کلونو راهیسې، په ډیرو سیمو کې خلک د پاکو صحي اوبو د کموالي سره مخ دي، چې کورنۍ (په ځانګړې توګه ښځې او ماشومان) اړ شوي چې د پاکو اوبو موندلو لپاره ساعتونه سفر وکړي. د دې بنسټیزې اړتیا نشتوالی نه یوازې د دې کورنیو روغتیا ته زیان رسولی، بلکې د دوی زده کړو، عایداتو، او عمومي حالت باندې هم منفي اغیزه کړې ده. د دې مهمې مسئلې په ځواب کې، قمر خیریه بنسټ ٦ د لمر په ځواک سره د اوبو سولري پروژې په بریالۍ توګه پلي کړې دي، چې شاوخوا ۴۰۰ کورنیو ژوند یې بدل کړی دی. اوس د لمر انرژي د ځمکنیو سرچینو څخه اوبه د دې ټولنو په اسانه لاسرسي کې د پمپ کولو لپاره کارول کیږي. دغو پروژو د اوږد او سخت سفرونو اړتیا له منځه وړې او کورنیو ته د پاکو څښاک اوبو یوه دوامداره رسونه برابره کړې ده. د دې پروژې اغیزه یوازې د اوبو د لاسرسي پورې محدود نه دی. ښځو ته یې ځواک ورکړی دی، چې د اوبو د ترلاسه کولو لپاره اړتیا لرونکی وخت او هڅه کمه کړي، او دوی ته اجازه ورکوي چې د خپل ژوند نور اړخونو ته تمرکز وکړي. ماشومان هم اوس د خپلو زده کړو لپاره ډیر وخت لري، چې د دوی د روښانه راتلونکي په جوړولو کې مرسته کوي. سربېره پردې، د تجدید وړ لمر انرژي کارول د چاپیریال اغیزه کمه کړې او د نورو انرژي سرچینو باندې یې هم تکیه راکمه کړې ده. دا د لمر بریښنا پروژه د دې نښه ده چې د ټولنو ترټولو عاجلو اړتیاوو ته د پایښت وړ حل ځواک په ګوته کوي. د نوښت او تجدید وړ انرژی ترکیب، دغه نوښت د سلو کورنیو لپاره هیلې، روغتیا، او روښانه راتلونکی برابروي.

## سولري پروژې ٦

- بغلان
- ننګرهار
- نورستان
- فاریاب
- لغمان
- هلمند

۱۵۰ ګټه اخیستونکي









**د ۱۴۰۳ کال خونړۍ زلزله**
هرات، افغانستان

# کور جوړونه

بېوزله هیوادوال ډېر وخت د اوسیدلو لپاره د ژوند تیرولو مناسب ځای نه لري او یا هم په غیر معیاري او له ډېرو امکاناتو لرې ځای کې د ژوند سختې ورځې او شپې سبا کوي، همدې اړتیا ته په کتلو سره قمر بنسټ د کور جوړونې په لړ کې تر دې مهاله یو سلو دېرش (۱۳۰) کورونه جوړ کړي دي، لسګونه کورونه تر کار لاندې دي او سلګونه نورو ته پلان لري.

- هرات
- کابل
- لغمان
- کونړ
- بغلان
- کندز
- فاریاب
- سمنګان
- ننګرهار
- هلمند

**۱۰۰۰**
ګټه اخیستونکي











د قمر ښارګوټی
هرات، افغانستان

## مسجدونه:

قمر بنسټ په دې کمه موده کې یو سلو شپېته (١٦٠) مسجدونه بشپړ اباد کړي دي، لسګونه مساجد تر کار لاندې دي او سلګونه مساجد تر پلان لاندې دي.

د مسجد جوړونې اهمیت له دې کبله هم زیات دی چې نبي علیه السلام قباء ته ولاړ، په لومړیو ورځو کې یې هلته د مسجد القباء بنسټ کېښود، پر عمرو بن سالم سیمه ورتېر شو، دلته مسجد الجمعة جوړ شو او کله چې مدینې ته ولاړ، په لومړیو ورځو شپو کې یې د مسجد النبوي ډبره کېښوده.

مسجد جوړونه ستر فضیلت لري په همدې خاطر قمر بنسټ پدې سلګونه مساجدو اکتفاء نده کړې او پلان لري هر ځای چې خلک مسجد ته اړتیا لري ان شاء الله د الله تعالی کورونه به ابادوي.

مسجد جوړونه هېواد لپاره اقتصادي ګټه هم لري، سلګونه خلکو ته د کار زمینه برابرېږي، ساختماني مواد لکه سیخ، خښته، او داسې نور ټول د هېواد تولید دي او موږ ترې استفاده کوو ترڅو داخلي تولید لا وده وکړي.

١٦٠



- کابل
- کندز
- پروان
- کاپیسا
- لوګر
- بغلان
- نورستان
- کونړ
- لغمان
- ننګرهار
- فریاب
- هلمند
- فراه
- پکتیا
- خوست

۴۵۰۰۰
ګټه اخیستونکي






**فاریاب، افغانستان**
په لرې پرتې سیمه کې د قمر بنسټ جومات

# د زراعت برخه



**لغمان، افغانستان**
د قمر بنسټ زراعتي فارم

# د زراعت برخه

د کرنې په برخه کې د قمر بنسټ اته سوه جریبه ځمکه استفادې ته ځانګړې کړې ده چې پر دوه سوه جریبه یې مختلفې ونې نال شوې دي. د نورو برخو په څېر زموږ هېواد په کرنیز ډګر کې لا نور هم خدمت ته اړتیا لري.

د کرنیزو محصـــولاتو ډېروالی موږ ته دا وړتیا راکوي چې پر ځان بســـیا شو او د نورو له احتیاجه ازاد شو. له همدې کبله زموږ دا خدمت یو اساسي خدمت دی او امېد لرو چې په دې برخه کې نور هم پر مخ ولاړ شو.



- مالداري
- د چرګانو فارم
- د میوو تولید

# تحصيلي بورسونه



# تحصيلي بورسونه

همدارنګه قمر بنسټ دزده کړو په ډګر کې داخلي او خارجي بورسونو ته زمینه برابروي.

د هېواد له مختلفو تعلیمي او تحصیلي ادارو سره هوکړه لیکونه ترسره کوي او له همدې لارې د هېواد ځوانانو ته دزده کړو وړیا او با تخفیفه لارې چارې برابروي.

پدې برخه کې قمر بنسټ تر دې مهاله ډېر بریالي او ګړندي ګامونه پورته کړي دي. چې تر دې مهاله ۴۰ محصلین مالیزیا هیواد البخاری نړیوال پوهنتون ته په سکالرشیپ لیږل شوي، الحمدلله د قمر لیږل شوي محصلین هلته په پوهنتون کې د ګران افغانستان په نوم ډېرې ښې لاسته راوړنې لري.

د نن څخه درې نیم کاله وړاندې ۱۰۰ ځوانان په کابل کې خصوصي معتبرو پوهنتونونو ته معرفي کړل چې نږدې وخت که به فارغ شي، ډیری محصلین همدا مهال دندې لري د خپل ځان، قمر او خپلې کورنۍ لپاره ښې لاسته راوړنې لري.

تازه ۱۴۰۳ هـ ش کال کې ۳۰۰ نور ځوانان ورونه او خویندې د افغانستان په درې ولایتونو کابل، کندهار، او ننګرهار کې معتبرو خصوصي پوهنتونونو ته معرفي شول او خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکوي.

## ځانګې

- اقتصاد
- کمپیوټر ساینس
- حقوق
- شرعیات
- ژورنالیزم
- انجنیري
- نرسنګ
- فارمسي
- قابلګي







**کابل، افغانستان**
بورسونو د آزموینې ورځ



**کابل، افغانستان**

د ټکنالوژیکي روزنې پروګرام

# ټکنالوژیکي روزنه

موږ ټولنه کې اړتیا ته په کتوسره فعالیت ترسره کوو، موږ لیدل د ټکنالوژۍ برخه کې د مسلکي ځوانانو کمښت ده، شپږ میاشتنی ټرینینګ مو ۵۰ کسانو ته په لاره واچولو، په دې دورې کې لاندې برخې شاملې وې
UX/UI, Frontend Development, Graphic Designing, Digital Marketing

دا هغه مهم مهارتونه دي چې اوس وخت کې نړۍ او په ځانګړې توګه افغانستان ورته ډېره اړتیا لري او د کار ساحه یې هم پراخه ده.

او دې دورې کې بریالیو ځوانانو ته په وړیا توګه یو ښـــه لب ټاب کمپیوټر هم ورکول کیده، چې د زده کړې تر څنګ خپلې چارې هم پکې مخکې یوسي.





- د فرانت ایند ویب دیولاپمینت( Front-end Web Development )
- ډیجیتل مارکیټینګ (Digital Marketing)
- ګرافیک دیزاین ( Graphic Design )
- اکاونټینګ ( Accounting )
- یو اکس/ یو ای دیزاین ( UX/UI Design )

۵۰ ۱۰۵

ګټه اخیستونکي



# تخنيكي نوښت

## د افغانستان لپاره اليكترونيكي كتابتون



# اليکټرونيکي کتابتون



قمر خيريه بنسټ په افغانستان کې دزده کړې او پوهې ته د ودې ورکولو لپاره وقف شــوی دی. قمر به اِن شــاءالله اليکټرونيکي کتابتون جوړ کړي، ترڅو ټول افغانســتان کې زده کوونکي اليکټرونيکي سرچينو ته لاسرسی پيدا کړي.

زموږ په دغه نوښـــــت کې د اليکټرونيکي سرچينو پراخه ټولګه راميئځته کول شــــــامل دي لکه د اليکټرونيکي کتابونو، مقالو، ويډيوګانو، غږيز ريکارډونو او د مطالعې نورې مختلفې ساحې پوښي.
داسرچينې به د پوهنتون محصـلينو ته چمتو شي، دوی به پـرته د دې چې د دوی ځای او مکان په پام کـې ونيول شي دغوسرچينو پواســــطه د لوړ کيفيت تعليمي موادو ته لاسرسی ومومي.



د اليکټرونيکي کتابتون په جوړولو سره، موږ هيله لرو چې په اوږد مهاله توګه زده کړو ته وده ورکړو.
زموږ د دغو هڅو موخه دا ده چې زده کــړو ته د لاسرسي کچه لوړه کړو ترڅو هېوادوال خپلې علمي او مســـــلکي موخې تعقيب کړي.




**کابل، افغانستان**
د پاملرنې کارت اړمن کس

# د قمر بنسټ پاملرنې کارت

په افغانســـــتان کې فقر داسې شوی چې هر څوک هڅه کړي چې مرسته ترلاسه کړي، که یې مستحق وي او که نه، اوس مرستندویه بنسټونو ته په کار ده چې ددې لپاره چې وړ او په واقعي مانا اړمن او فقیر خلک پیدا کړي او مرسته ورسـوي، همدې موخې ته د رسـیدلو لپاره قمر د پاملرنې کارت پروژه په لاره اچولې، د تاکل شوي ټیم له لارې سروې ترسره کیږي، هڅه کړي چې وړ او مســتحق وګړي ومومي او ددې مرستو برخه یې وګرزوي، چې تر دې دمه زرګونه اړمن او بېوزله وګړي د پاملرنې کارت پروژې کې ثبت شوي.

- کابل
- کاپیسا
- پروان
- زابل
- لوګر
- بغلان
- پکتیکا
- کونړ
- لغمان
- ننګرهار
- فاریاب
- پنجشیر
- وردګ
- پکتیا
- خوست
- غزني
- کندهار

**۸۰۰۰**
ګټه اخیستونکي

مونږ شاوخوا ۸۰۰۰ اړمن هیوادوال د قمر بنسټ پاملرنې کارت کې ثبت کړي دي.


دغه اړمن هیوادوال شاوخوا ۱۷ مختلفو ولایتونو کې سروې شوي دي.



# د وینې ورکړې او راکړې سیستم
# *Giveblood.online*

په انساني او بشري ژوند کې دا معمول ده چې د ځینو ناروغیو په وخت کې وینې ورکړې ته اړتیا پیدا کیږي، د وینو د نه شتون له أمله خلکو خپل شیرین ژوند له لاسه ورکړی.

همدې اړتیا ته په کتلو سره قمر بنسټ د (Giveblood) په نوم یو داسې ویب سایټ جوړ کړ چې د افغانستان د ګوټ، ګوټ څخه خلک ترې ګټه اخستلی شي، لومړی پکې هغه خلک ځان ثبتوي چې د اړتیا وخت کې وینه ډالۍ کړي، د شخص نوم، د وینې ګروپ، ولایت، ولسولی، ناحیه، موبایل شمېرې او ایمیل ټول مالومات وي، هغه څوک چې ضرورت لري، خپلې مربوطه سیمې ادرس سرچ کوي د هماغه سیمې او اړتیا وړ ګروپ کسانو لیست ورکوي، کولی شي اړیکه ونیسي او خپله اړتیا پوره کړي.



شاوخوا ۲۰۰۰ کسانو په خپله دغه سیستم کې ځان ثبت کړی دی.

زمونږ ۳۰۰۰ رضاکارانو اړمنو کسانو ته وینه ورکړې ده.

# کلینیک



# کلينيک

د افغانســتان په لرو پرتو سيمو کې روغتيايي خدمات په نشــت حســاب دي، ډيری وطنوال، ښځينه او ماشومان له ډېرو ستونزو سره مخ دي قمر بنســټ تر دې مهاله دوه روغتيايي کلينيکونه لري چې د روغتيا په برخه کې د هېوادوالو ته خدمت کوي.

قمر بنسټ په پلان کې لري چې راتلونکي کې روغتيايي برخه لا ښه او د اړتيا وړ خدمات وړاندې کړي.

**په پکتيکا ولايت کې د قمر بنسټ کلينک هره مياشت د څه باندې ۲۰۰۰۰ ناروغانو درملنه کوي.**





# پر ټولنې زموږ تاثیر

## د قمر بنسټ خیریه فعالیتونو څخه نږدې د ټول هېواد وګړي ګټه پورته کوي.




قمر خیریه بنسټ تر دې دمه شاوخوا **یو میلیون** اړمنو کسـانو ته خپلې مرستې رسولې دي.

# د قمر بنسټ دفترونه

## افغانستان دفتر


8st street,Taimani,  Kabul

+93 77 722 2178

## انګلستان دفتر

Crown House, 321 N Circular Rd.,
London NW10 7PN, UK

+44 7477 221124



# باور په پام کې نیول کیږي



# مونږ سره په اړیکه کې شئ

www.qamarcharity.org | info@qamarcharity.org | +93 77 722 2178 +93 77 700 0553

Qamar Foundation - قمر بنسټ

# همدا اوس مرسته وکړئ

## په افغانستان کې زمونږ بانک اکونټ

***USD Account No***. 007801200705578
SWIFT Code: AZBAAFKAXXX
Bank: Azizi Bank
***AFN Account No.*** 007801100703405
SWIFT Code: AZBAAFKAXXX
Bank: Azizi Bank

## په انګلستان کې زمونږ بانک اکونټ

**Qamar Foundation**
Sort code 40-09-10
Account number 51464809
IBAN: GB42HBUK40091051464809
Branch identifier code
HBUKGB4117M

Western Union and MoneyGram Transfer

MoneyGram
WESTERN UNION WU
+93 77 722 2178
+93 77 700 0553
Kabul, Afghanistan


THANK YOU FOR
YOUR GENEROSITY!
Qamar Foundation




QAMARCHARITY.ORG